Download from:aghalibrary.com

زخمونه ملهمونه



وزیر محمد روغ لیونی

PROPERTY OF
ACKU
856

زخمونه ملهمونه

PROPERTY OF
ARIC

وزیر محمد روغ لیونی

بیه 30 کلداری

Download from:aghalibrary.com


بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	:	زخمونه ملهمونه
ویناوال	:	وزیر محمد "روغ لېونی"
خپرندوی	:	دانش خپرندویه ټولنه
کمپیوتر اپرېتر	:	نجیب الله وصال
د چاپ نېټه	:	دلو / ۱۳۷۸ - فبروري / ۲۰۰۰
د چاپ شمېر	:	۵۰۰ ټوکه

چاپ او کمپیوټر ځای

دانش کتابخانه - ډکي نعلبندي - قصه خوانی - پېښور

۲۵۶۴۵۱۳

تول حقوق ليکوال پورې محفوظ دي

Download from:aghalibrary.com

سریزه

د وزیر محمد روغ لیونی سره ما هغه وخت وپیژندل چې دی یو نظامي افسر و او له دغې دندې برسیره یې د پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې زده کړه کوله.

همدغه وختونه وو چې د روغ لیونی په شعر ویلو خبر شوم او کله کله به یې خپل یو نیم شعر هم راته په ټولګي کې اوراوه.

وزیر محمد روغ لیونی یو ساده زړه سوانده او سپیڅلی انسان دی چې همیشه یې په صداقت د خلکو خدمت کړی دی. د وطن او خلکو سره همدغه مینه د ده په شعر کې همیشه ځلیدلې ده. وزیر محمد روغ لیونی له خپل شعر نه بېل نه دی.

د روغ لیونی دا حاضره مجموعه که څه هم د مختلفو موضوعاتو لرونکې ده خو پر ټولو موضوعاتو باندې یې د وطن مینه درنه ده. دی همیشه د خپلو خلکو په بریاوو ویاړېدلی دی او په درد یې دردېدلی دی. د روغ لیونی شعر اولسي رنګ لري او خپل مطلب د نظم په ژبه نېغ په نېغه بیانوي. د شعر او ادب سره د روغ لیوني مینه یوه نه شلیدونکې مینه ده. همدغه مینه وه چې دی یې له نظامي چارو سره سره د ادبیاتو لوستلو ته وهڅاوه. روغ لیونی د خپل مصروف ژوند سره د شعر او ادب لمنه نه ده پرې اېښې او همیشه یې چې په زړه څه راغلي هغه یې په شعر کې وړاندې کړي دي.

زه روغ لیوني ته د دغې مجموعې مبارکي وایم او په دغه لار کې ورته راتلونکي بریالیتوبونه غواړم.

بریالی باجوړی

۳-۲-۲۰۰۰

Download from:aghalibrary.com

قسم

ستا د تندي په شنو خالونو قسم ستا په سرو شوندو اننګونو قسم
چې پرې ځانګړي عاشقان د مينې ستا تورو زلفو په تالونو قسم
چې بې نکريزو بې رنجو ښکلې دي د تا په سترګو سرو لاسونو قسم
ستا د مستۍ په پسرلي ګلونو ما د هغې په توفانونو قسم
په سره پېزوان کې د حکمت شته ګلې د تا په غاړه تاويزونو قسم
چې نيمايي دنيا ته اور اچوي ستا په نازونو مکيزونو قسم
چې په اسمان کې تري سپوږمۍ پټېږي ستا د سپين مخ په مشالونو قسم
د ادم خان او د مجنون په مينه د دوی د ژوند په تکليفونو قسم
چې ننداري او رنګينې جوړوي ستا د غوټيو په موجونو قسم
چې په کتو يې مين نه مړېږي ستا د ښکلا په سرو ګلونو قسم
"روغ لېونې" ته ډېره ګرانه يې ته ما د ملا په کتابونو قسم

کال ۱۳۴۰ د ثور مياشت
د کابل ښار دارالامان

د پېغلې ژړا

واورئ وطنوالـو پکـښې وکـړئ قضـاوت
غوارمـه پـدې کـښې زه لـه تاسـو عدالـت
پلار مې ظالم شوی خرڅوي مـې پـه دولـت
په کورکې يې جوړکړی پټ په ما دی تجارت

حيرانه ورته ګورم لکه شمعه ويلې کېږمه
ژاړم ورونو ځکه چې په زور ظلم خرڅېږمه

دا څنګه انصاف دی زما د مور او پلار
پوښتنه له مانکړي ورکوي مې بې اختياره
څه په وکړم خدايه په داهسې تريخ روزګار
له کوره ايستل کېږم لاس ترلې په تلوار

څه ګناه مې کړې چې په سره اور کې ورتېږمه
دې فکر غمونو کې تر کومه به زورېږمه
راتلونکي وخت د پاره همېشه په اندېښنو کې يم
خوب خندامې ورك دي په دردونوپه غموکې يم
بابا راګيره کړي نن د ظلم په پنجرو کې يم
ناسته د تبجنو په غمجنو تورتمو کې يم

مرګ دځان پرې ښه ګڼم له داسې ژوند بېزاره يم
اې زما ولسه ګليمنه له خپل پلاره يم
بله شمعه ګوره زه هم هسې په ژړا کې يم
نور څه وس مې نشته همېشه په واويلا کې يم
ډېره انتظار د خپل ارزو په تمنا کې يم
تاسو ته راغلې ځوږېدلي په سودا کې يم

روغ لېونی ګوره چې ګيله يې اوږېدلې ده
ځکه خپل شعرو کې يې زما ژړا ليکلې ده

د وطن بچي ته

د پلار و نیکو په لار باندې روان شه خپل تاتوبي خپلو خلکو نه قربان شه
د وطن د سمون چارې احساس غواړي د رنځونو او دردونو یې درمان شه
د زړګي په وینو وچ ډاګونه شنه کړه شاړو ځمکو سپېرو دښتو ته باران شه
د ظالم په مانۍ سره اورونه بل کړه د وختونو د بدلون نوی دوران شه
د همت تندی چې تیټ نکړې جابر ته د څټکو ګوزارونو ته سندان شه
د هېواد د سترو ستونځو په بهیر کې مه ډارېږه په مخ درومه قهرمان شه
تور تمونه تیارې ورکې له وطن کړه د تاریخ په زمانه کې ستر انسان شه
اې شاعر "روغ لېونیه" تاته وایم د مظلوم ولس په مینه کې قربان شه

د بګرام هوایي ډګر - ۱۳۵۰/۲/۱

رضا

نـه مـې وفـا نـه مـې جفـا خـوښېږي
زه پرې رضا يم څه چې سـتا خـوښېږي
د خپـل زړګي حال بـه څرګند کـړم درتـه
د ستا غونچې خولې مې خندا خـوښېږي
د هـرچـا خيـال فکـر چـې څه خـوښوي
زمـا د عشـق ښکلـي دنيـا خـوښېږي
چـې بـنو لاښـدې راتـه ګوري پـه نـاز
دغـه کتـل مـې د اشـنا خـوښېږي
چې وم مشغول دې په تنکۍ مينه کـې
خدايږو په غـلا هم مې رسوا خـوښېږي
د سـتا وصـال چـې راسـره وي ګلـې
"روغ لېونـی سـبا بيـګاه خـوښېږي

د بګرام هوايی ډګر - ۹۱۳۵۰/۱

وطن دوستي

سر او مال چې په وطن باندې نثار شي
دښتې غرونه اغزي بوټي به ګلزار شي
د کوم باغ چې حفاظت مناسب وشي
خامخا به يې هر بوټی ثمردار شي
د هرچا بری موقوف دی په کارونو
زرتر زره به بيکاره بد روزګار شي

هـر عاشـق سـره چـې غـم د جانـان نـه وي
صـادق نـه دی محبـت بـه يـې دشـوار شـي
د مقصـد مـنزل تـه هغـه ميـن رسـي
چې قربـان د يـوه وېښتـه د خپـل نـګار شـي
چـې د ورځې پـه کـارو کـې تنبلـي کـړي
يـو مـن پـېتی بـه سـبا ورتـه خـروار يـش
ځوانـان پېغلـې چـې وطـن پـه غـم شـريك شـي
د نېسـتی پـه هغـه وخـت کـډې بـار شـي
تـاريخونو کـې يـادګار يـې پـاتې کـېږي
چې رښتيـا ځوك خپـل وطـن تـه خدمتګار شـي
هغـه سـر چـې د وطـن پـه درد ونخـوري
تـش کـډو دی چـې نـاحق پـه اوږو بـار شـي
تقليـدي فيشـن يـې جـوړ کـه د يـوروپ وي
د وطـن غمخـور چـې نـه وي څه پکارشـي
دا دې زړه لـه کومـې "روغ لېونـی" وايـي
سـر او مـال مـې دې شـرين وطـن نـه ځار شـي

د بګرام هوايي ډګر - ۱۳۵۰/۴/۱۵

پټ راز

ګلې له غمه دې خندلی نه شم اوښکې مې سترګو کې ژړلی نه شم

سترګې دې دومره تاثیر دی ګرانې مخ ته دې ځیر غوندې کتلی نه شم

که مې هرځو زړه صبروم له تانه یوه شیبه دې هېرولی نه شم

ډیر د خبرو مینه ناک یم تاته خو مخامخ درغږېدلی نه شم

تاثیر دې د مینې دی که زه ډارن یم چې له خپل راز دې خبرولی نه شم

خدای دې پخپله مهربانه کړه نور له دې زیاتې دې پوهولی نه شم

"روغ لېونی" ته پته ګرانه یې ته په خوله له شرمه درته ویلی نه شم

د خواجه رواش هوایي ډګر د - میزان/۱۳۵۲

زخمونه

خدایـه بنکـاره کـړم پـر هرونـه چاتـه
پـه لمبـو سـوي مـې داغونـه چـا تـه
څوك بـه يـې واورې کـوم يـو وايمـه
د ســوي زړه مــې فريادونــه چاتــه
چې نـه مـې ويني نـه مـې اوري ظـالم
کـړم بـه څرګنـد د زړه دردونـه چـا تـه

چې مې پروا نکړي د څيړې ګريوان
څنګه بيان کړم اميدونه چا ته
وسول تنکي مې د اميد ګلونه
يو سم ايړې مې ارمانونه چاته
چې انساني عاطفه نه وي چا کې
نو به بنکاره کړمه زخمونه چا ته
پر مخ رواني مې غمجنې اوښکې
چېرې به ووايې رازونه چا ته
"روغ لېونيه" چې غمخور نه وي څوك
وايي د خپل ولس عرضونه چا ته

سيد نور محمد شاه مېنه - کابل - ثور - ۱۳۵۶

بې وزله بوډی

په سر دې لارې په ګردو کې پته حیرانه ناسته وه غمو کې پته
وسپیرو شوندو یې پتري نیولې د بې کسې په اندېښنو کې پته
یو زړې زېښبلی یې یتیم غېږه کې د بې وسیو په تنګسو کې پته
نور یتیمان یې منتظر په کور کې د داسې ستونزو په کیسو کې پته

څيرې ګربوان زوړ يې پرتوک و پښو کې | په لمبو سوي ارمانو کې پته
د ګيلو ډنډ اوښکې يې سترګو کې وې | په ځورېدو په ژړېدو کې پته
سر يې ببر خيرن يې پښې لاسونه | د ژوند ناخوالو په ترخو کې پته
مخ يې و ګونځې کميس لاړې لاړې | د تور تکري په زولنو کې پته
تبې نيولې ستومېدله بوډۍ | په درد بدلي فريادو کې پته
نرۍ فرياد يې له ځيګره خاته | د بې وزلۍ په تکليفو کې پته
د لېونتوب اثر راغلی وۀ پرې | د ژوبلو هيلو په چرطو کې پته
د يوې ډوډۍ مړۍ په هيله ناسته | د لوړې تندې په خيالو کې پته
د غريبۍ چيغو مړۍ پرې سوې | خپلو پردیو نه ګيلو کې پته
لاس يې نيولی د خيرات په تمه | د زخمي زړه په اسويلو کې پته
د دې ګناه به وي د چا په غاړه | چې دا بدبخته ده ظلمو کې پته
د زيينباك ګر او مستبد د لاسه | خاورې په اوري په دردو کې پته
"روغ لېونيه" زر شه غم يې وخوره | دا به ترخو وي تورو شپو کې پته

کابل سید نور محمد شاه مېنه
د حمل میاشت ۱۳۵۷ کال

د مور په ویار

موري د ژوند واړه کیفیت تا کې دی
د قدر وړ یې ډېر عزت تا کې دی
پیغمبران که عالمان تېر شوي
قهرمانان که شاعران تېر شوي
تول سیاست هر منزلت تاکې دی
د قدر وړ یې ډېر عزت تا کې دی

د کمـــالونو خزانـــو ډکـــه يـــې
تـــه دې رازونـــو فلســـفو ډکـــه يـــې
د علـم پوهـې ستر قـوت تـا کـې دی
د قـدر وړ يـــې ډېر عـــزت تـــا کـــې دی

څومـره ډېر رحـم عاطفـه لرې ته
بـې دريغـه مينـه حوصله لرې ته

عجـب نعمـت او شـفقت تـا کـې دی
د قـدر وړ يـــې ډېر عـــزت تـــا کـــې دی
کـه پـه ژونـدون کـې بدلونونـه ګرځي
ستـا پـــه لمـــن کـــې عالمونـــه ګرځي

د خدای حکمت لوی قدرت تا کې دی
د قـدر وړ يـې ډېر غيـرت تـا کې دی

نړيوال هوايي ډګر - کابل
ثور/۱۳۵۷

ناکامه هسله

د زړګي مينـــه مـــې خطـــا لاړلـــه
چـې مـې غوښتـــه هغـــه ليـــلا لاړلـــه

چـې اوبـــو لـــه مـــې د زړه پـــه وينـــه
هغـــه باغچـــه تـــالا والا لاړلـــه

ليلـــى راغلـــې پـــه خنـــدا وه دلتـــه
لـــه غمـــه ډکـــه پـــه ژړا لاړلـــه

ظـالم پـرې وکـړي نـارواوې د پرې
پـه زړه غمجنـه نيمـه خـوا لاړلـه
د زمـانې پـېښنو رنـځوره کړلـه
لـه درده سـوزه پـه غوغـا لاړلـه
کاشکې د مينې په ديدن يې مړ وای
افسـوس افسـوس لکـه برېښنـا لاړلـه
د پسـرلي پـه سـينګار ښکلـي نـاوې
تبجنـو پـېښنو نـه پـه شـا لاړلـه
هغـه شـېبه رابـاندې تـوره شـپه شـوه
چـې د اشـنا د مـخ رڼا لاړلـه
چې په پټ مخ رانـه ستانه شوه ببرتـه
"روغ لېونـی" ورسـره سـاه لاړلـه

سید نور محمد شاه مېنه کابل
۱۳۵۸/۶/۳۰

کوچ

تا چې کوچ وکړو ډېوې مړې شولې
زما په زړه توري تياري شولې
تا چې کوچ وکړلو تورتم شو په ما
په ناڅاپي ډول ماتم شو په ما
ډېرې د ژوند شېبې ترخې شوې راته
د زمانې پېښنو ستم شو په ما

په سر مې ډېرې اندېښنې شولې
زما په زړه توري تياري شولې
ته دې محفل ښکلې خندا وې ماته
د پسرلي ګلو دنيا وې ماته
نن چې ته نه يې سور قيامت دی په ما
پتو زخمونو ته دوا وې ماته
هيلې مې واړه سرې لمبې شولې
زما په زړه توري تياري شولې
"روغ لېونی خونه تالا شوه ګلې
چې ستا رڼا په غرو پناه شوه ګلې
ودې ونه ويل چې بيا کله راځې
دا راسره پته سودا شوه ګلې
که عمري لاړلې هوري شولې
زما په زړه توري تياري شولې

کابل - سيد نور محمد شاه مېنه
۱۳۵۸/۷/۱۵

د کابل جلې

هېره بــه نشــي د پرې ښکلــي جلــې
اې پــه کــابل کــې مــا ليدلــي جلــې

د خيــال دنيــا کــې يــادوم د ګلــي
د زړه پــــه ســـترګو ګرځوم د ګلـــي

پـټ مــي د مينــه کــې ژړلــي جلــې
اې پــه کــابل کــې مــا ليدلــي جلــې

که ورځې میاشتې د برکالونه تېر شي
که مې د ژوند ترخه عمرونه تېر شي

ته به په یاد وې د پرې ښکلې جلۍ
اې په کابل کې ما لیدلې جلۍ

د ستا د مینې خاطرې راسره
پتې د خوند خوږې کیسې راسره

د زړه په سر مې یې لیکلې جلۍ
اې په کابل کې ما لیدلې جلۍ

د اور لمبو کې سپېلنی شم له تا
په تنکۍ مینه کې لوګی شم له تا

د سرې غوتۍ شان غوړېدلې جلۍ
اې په کابل کې ما لیدلې جلۍ

ګرانې توده مینه د زړه کې ساتم
ستا د یارۍ غزلې خوله کې ساتم

روغ لېونې ته نازولې جلۍ
اې په کابل کې ما لیدلې جلۍ

کابل د پوهنتون بنې - د سرطان میاشت ۱۳۶۱ کال

غمګينه مينه

کلـه چـې تـا سـره مـې مينـه شـوله
پـښه وچـپدو مـې د تـن وينـه شـوله
کلـه چـې تـا بـاندې مـيـن شـوم ګلـې
په مينتوب کې دې غمجن شوم ګلې
ارزو د مينـې مـې غمګينـه شـوله
پـه وچـپدو مـې د تـن وينـه شـوله

چې مې د ستا د مخ بنکلا ولیده
په ځان مې تنګه دا دنیا ولیده
له ژوندانه مې هیله نیله شوله
په وچ‌پدو مې د تن وینه شوله

هسې د مینه کې مختور شوم لیلا
وصال د رانکړو رنځور شوم لیلا
هیله د مینې مې خاورینه شوله
په وچ‌پدو مې د تن وینه شوله

"روغ لیونی" د له ظلمونو ژاړم
دا به تر څو کومو وختونو ژاړم
بډیره مې ستا غمو کې سپینه شوله
په وچ‌پدو مې د تن وینه شوله

کابل د پوهنتون بنې - ۱۳۶۴/۲/۵

ارمان جنه مينه

PROPERTY OF
ACKU
8656

ته مې د مينې په رګو کې اوسه
زما د سترګو په کاسو کې اوسه
ستا د وصال مې ډېر ارمان کړی و
پټ مې دننه په لېمو کې اوسه

تـــا پســـې ډېر يـــم ګرځېدلـــی ګلـــې

اوس مې د زړه ښکلي قصرو کې اوســه

ډېرې مـــې کـــړې اندېښنـــې درپســـې

نـور مـې د مينـې په فکـرو کـې اوســه

د ســـتا ديـــدن تـــه ســـوی تـــږی ومـــه

ته مې د ژوند د خونـد نشـو کـې اوسـه

د زړګي سـر د سـترګو تـور مـې يـې تـه

تـل مـې د مينـــې محفلـــو کـــې اوســـه

د سـر پـه بيـه مـې پيـدا کـړې اخـير

"روغ لېونـی" د سـر مغـزو کـــې اوســه

کابل د پوهنتون بنې - ثور/۱۳۶۵

دخلکو شاعر

د ســـولې امـــن د رڼا شـــاعر يـــم
د وطـــن خلکـــو د وفـــا شـــاعر يـــم

مـــزو چـــرچـــو ســـره اشـــنا نـــه يمـــه
د يتيـــم اوښکـــو د ژړا شـــاعر يـــم
په ظلم جوړ بلډينګ مې نه خوښيږي
زه د کـــيږدې او د ســـارا شـــاعر يـــم

په شنو باغو کې ګرځېدلی نه يم
د وچ ډاګونو د بېديا شاعر يم
خوله مې خندا ته جوړه شوې نه ده
د فريادونو واى ويلا شاعر يم
د خوشالۍ قسمت مې سوى په اور
د اندېښنو او د سودا شاعر يم
پلاو قرمو سره بلد نه يمه
د وچ ګډلي نه پيدا شاعر يم
د خوښۍ برخه مې ويده ده چېرې
په غم کې ډوب تالاوالا شاعر يم
نه مې اغوستي بنايسته جامې دي
زه د کرباس او دخمتا شاعر يم
ازاد ژوندون ته مې څوك کله پرېږدي
د ځنځيرونو د شرنګا شاعر يم
که مې هرڅو ظالمان وځوروي
سر به ټيټ نکړم بې ګناه شاعر يم
"روغ لېونيه" لږ څه وپوهېږه
شپه به شي تېره د سبا شاعر يم

کابل - خير خانه
۱۳۶۵/۱۱/۱

د جنګ ډګر

د جنـــګ ډګر کـــې جنګېدلـــی شـــمه
غلیـــم لـــه پـــښو نـــه غورځولـــی شـــمه
کـــه مـــې دښمـــن مخـــې تـــه ودریږي
غاښونـــه خولـــه یـــې مـــاتولی شـــمه
کـــه مـــې د تـــن وینـــه وطـــن وغـــواړي
پـــه ګلـــو بـــوتو یـــې شـــیندلی شـــمه

وطـن مـې سـور د ګلـو بـن دی زمـا

لـه هـر افتـه يـې سـاتلی شـمه

کـه مـې کـړه هـېواد تـه وګوري څوک

سـترګې يـې غـبرګې ږنـده ولـی شـمه

د خلکو مینه مې مسـتي کړي تـن کې

د وطـن ننـګ کـې يـې ازمويلـی شـمه

کـه يـوه شـپېه نفـس لـرم بـدن کـې

د وطـن عشـق کـې ځان سـوځلی شـمه

د وطـن هيلـو ارمـانونو پـه ويـار

پـه وينـو سـور ځان لمبولـی شـمه

"روغ لېونيـه" د وطـن لاره کـې

زره زره تـرې جـاربدلی شـمه

نوی بنار - کابل – ۱۳۶۶/۷/۸

د جرګو وطن

ډېر د پتمنـــو مېړنـــو وطـــن دی

دا زمـوږ ښکلـی د جـرګو وطـن دی

ځانتـه کلتـو ربـیل بـیل دودونـه لـري

ځانـګړي پرېکـړې او نرخونـــه لـــري

د ستـــرو پـــېښو فيصلـــو وطـــن دی

دا زمـــوږ ښکلـــی د جـــرګو وطـــن دی

د ژوند اړيکـو خاص کيفيت پکـې دی

دا د مشـــرانو ډېر عـــزت پکـــې دی

لـــه ويـــاړه ډك د عنعنـــو وطـــن دی

دا زمـــوږ ښکلـــی د جـــرګو وطـــن دی

پـــه پخلاينـــې رواجونـــو ښکلـــی

د ټول جـــهان لـــه وطنونـــو ښکلـــی

"روغ لېونيـــه" د پښتـــو وطـــن دی

دا زمـــوږ ښکلـــی د جـــرګو وطـــن دی

د کندز ولايت شېرخان بندر - ۱۳۶۶/۹/۳

وطن

دا مـو د پـلار نیکـه سمســور وطــن دی

دا د افغــان پــه وینــو ســور وطــن دی

پــوخ پــه جــګړو کــې د ظــالم لــه لاســه

ازموئیــل شــوی ډېر بــاتور وطــن دی

لکــه د لمــر پــه شــان څرګنــد نــړۍ کــې

د غــــیرتونو ډك د شــــور وطــــن دی

کـه د جـهان دښمنـان ټول شـي ورتـه
ځواب يـې وايـي ډېر د زور وطـن دی
د احمـد شـاه د مـيرويس شـمله ده
د غـيرتي ملالـي خـور وطـن دی
په سـپك نظـر ورتـه کتـی نشـي څوك
د تـاريخونو ډېر مشـهور وطـن دی
د غليمـانو پکـي مـات سـرونه
زمـوږ د ويـار او د غـرور وطـن دی
د دې بـه ننـګ او شـرافت سـاتو مـوږ
"روغ لېونـی" د سـترګو تـور وطـن دی

هرات د بنې مېلمستون - ۱۳۶۷/۲/۹

بې ځايه هلې ځلې

ونې بوټي پخپل وخت نيسي ګلونه
بيا تر ې جوړ شي رنګ په رنګ بنکلي باغونه
هر يو څيز د تکامل په مرحلو کې
د خپل ژوند وهي پېچلي پراوونه
هر اميد چې د بري ميوې ته رسي
ورته اېښي يې عيني ذهني شرطونه

د غوښتنې سره سم چې اعيار نشي

سرته نه رسي د ژوند خيالي فکرونه

بې ګودره به اوبو چې څوک ګډ ږبي

ډبر ډوب شوي په څپو کې داسرونه

هغه څه چې ټولنيز نظام قبول کړي

پوره کېږي ستړي هيلې ارمانونه

دړې وړې واکمنې د زوره ورشې

ورته جوړ چې پرکنيز شي توفانونه

هېڅ سر نه نيسي بې وخته ناوخته چاري

پکار ندي ډبر بې ځايه تلاشونه

اې شاعر "روغ لېونيه" سپين غګږه

مه يې وايه ريا کار غوندې شعرونه

ځلور سوه بستريز روغتون ، کابل

۱۳۶۷/۴/۱

غمجني اوښکې

څېړې د ځمکې ګرېوانونه ښکاري
پکې د سرو وينو ډنډونه ښکاري

د غم څېړې خوري ګلونه په مخ
په رژېدو يې ارمانونه ښکاري

ځمکه هوا تورو ګردو نيولې
دورانکاريوپرې تندرونه ښکاري

غوبل غوبل د ګلو څانګې شولې
ژوبل تنکي د باغ ګلونه ښکاري

د چا غلبيل غلبيل تېرې وينم
د چا پرېکړې پښې لاسونه ښکاري

د بدبختۍ په وير کې ډوب يتيمان
د لورې تندې پرې ظلمونه ښکاري

د چا د سرو ګلو باغچې تالاشوې
له چا نه ورك زامن پلرونه ښکاري

غوتۍ ګلونو کې لمبې بلېږي
په شنو باغونو کې اورونه ښکاري

د چا مخونه پزې سترګې نشته
د چا خيرلي لرمانونه ښکاري

دغه د کوم ظالم انسان چاړه ده
چې پرې جدا له تن سرونه ښکاري

افغان ولس ته دا ناري وهمه
ستاسو نفاق کې دوزخونه ښکاري

بری د خلکو په وحدت کې پټ دی
په ورورولۍ کې جنتونه ښکاري

پرته له سولې که رنا غواړي څوك
داسې فکرونه پوچ خيالونه ښکاري

"روغ لېونيه" ستا د شعر ژبه کې
د ګران وطن ملي دردونه ښکاري

کابل خيرخانه - ۱۳۶۷/۶/۲۴

تبجني پيښې

اغـــزي اغـــزي مـــو شـــو چمـــن ولـــې

خـــاوري ايـــرې مـــو شـــو ګلشـــن ولـــې

دا بـــه د چـــا نـــه څوك پوښتنـــه کـــوي

چـــې کنـــډوالې مـــو شـــو وطـــن ولـــې

پـــه غـــرو رغـــو کـــې ســـره ګلونـــه ژاړي

چـــونې پراتـــه دي بـــې کفـــن ولـــې

کـــه د پردیـــو غـــرض نـــه یـــو دلتـــه

د ګلـــو بـــاغ مـــي شـــو اغـــزن ولـــي

د دي ځواب بـــه کومـــه ژبـــه وایـــي

چـــي ورور د ورور شـــولو دښمـــن ولـــي

کـــه د بدویـــن شـــیطانت نـــه وی پکـــي

د خـــوښي ژونـــد شـــولو دردمـــن ولـــي

کـــه زه او تـــه ملامـــت نـــه وُ دا کـــي

لمبـــي بلـــبږي پـــه شـــنه بـــن ولـــي

داســـي تبجنـــي پـــښي د پر لیکـــه

"روغ لېونیـــه" شـــوي هـــیرجن ولـــي

تپي زړه

د ميـــن زړه د مينـــې ګل زخمـــي دی

د وطـن نـاوې تـور وربـل زخمـي دی

څيـرې ګريوان مـې څه پوښتـې اشـنايه

د زړه قفس کې مـې ګوګل زخمـي دی

ځکه ګلان باغچو کې مړاوي ښکاري

د لېونۍ مینې بلبل زخمي دی

تولـه نړۍ چې نن ژړا نیولې

د ایشیا د زړه کابل زخمي دی

عقل کار نکوي چې څه پېښېږي

د قلم ژبه کې غزل زخمي دی

د دنیا خلکو لږ پرې ورحمېږئ

د اریانا پېغلې چرګل زخمي دی

روغ لېونی" سلګو کې ډوب دی ځکه

چې ګلو باغ یې پل په پل زخمي دی

زخمونه ملهمونه

مه ولئ نور مه ولئ چې مړه پکې اورونه شي
پرېږدئ دا تېې وطن چې جوړ يې پرهرونه شي
پدې ښکلي وطن کې به تر څو وينې بهېږي
دلې دلې ګلان به په سرو وينو کې لمبېږي
تر کومه به يې سرې لمبې په سر باندې بلېږي
د چا به ختين کور د چا کيږدی به پرې سوځېږي

مه يې سوځوئ چې لږ ارام يې زړه داغونه شي
پربږدئ دا تپي وطن چې جوړ يې پرهرونه شي
څو به دا تپي وطن کې ويړ او تورتمونه وي
سولې ورورګلوي ته به ګوابنونه خطرونه وي
دا په شخصي ګټو به تر کوم وخته جنګونه وي
هم به په خوارانو مظلومانو ستمونه وي
مه يې ځوروئ ګوندې چې غلي يې دردونه شي
پربږدئ دا تپي وطن چې جوړ يې پرهرونه شي
شاعر "روغ لېونيه" وطن سره اور کې سوځېږي
په جنګ کې ژوبل شوی دی درد پرې
راګير د زماني په حوادثو کې زور پرې
د امن سولې پرته نه په بل څه نه روغېږي
سوله به وطن ته د زخمونه ملهمونه شي
پربږدئ دا تپي وطن چې جوړ يې هپرهرونه شي

کابل خیرخانه
۱۳۶۸/۱۱/۱

ورانې شوې

زمـوږ د کـور کلـي کـوڅې ورانـې شـوې
د ديدنونـو ورځې شـپې ورانـې شـوې
د بـورا مينـه زړه کـې سـره لمبـه شـوه
تورو کمڅو کې چې غونچې ورانې شوې
پـه ګلکڅونـو سـرې سـکروټې ووري
د لېونـي مينـې اسـري ورانـې شـوې
داسـې ښکـارېږي چـې ګودر زخمـي دی
د ديدنـو ځکـه مېلـې ورانـې شـوې
د بلبلانـو لـه زړو وينـې څاڅي
د پسـرلي مسـتې نغمـې ورانـې شـوې
د تنکـي مينـې مـازدېر ليدنـي
څه د رنګين جـهان کيسـې ورانـې شـوې
"روغ لېونيـه" د ظـالم لـه لاسـه
يـارني نـوي هـم زړې ورانـې وشـې

کابل خير خانه - دلو/۱۳۶۸

د سولې کاروان

د وطـــن مينـــې بلبـــلان مـــه ولـــئ
زمـــوږ د رڼـــک کلـــي ګلان مـــه ولـــئ
پـــرېږدئ تنکـــی غـــوتی چـــې وغـــورېږي
دغـــه د ســـرو ګلـــو توفـــان مـــه ولـــئ

مـــــه ریژه وئ د مســـــتقبل ګلونـــــه

د شـــنو توتیـــانو ســـتر ارمـــان مـــه ولـــئ

لـــه مـــور او پـــلاره چـــې دي پـــاتې دلتـــه

دغـــه بـــې وزلـــه یتیمـــان مـــه ولـــئ

لـــږ پـــدې خلکـــو زړونـــه وســـوځوئ

د وطـــن پـــت ســـولي کـــاروان مـــه ولـــئ

وطـــن لـــوګی لـــوګی لمبـــې لمبـــې شـــو

زیـــاتي پتمـــن کـــور د افغـــان مـــه ولـــئ

"روغ لېونیـــــه" کونـــــډې رنـــــډې ژاړي

کیـــږدي جونـــګړو کـــې خـــواران مـــه ولـــئ

د لوګر ولایت - ۱۳۶۸/۱۱/۲۵

توري بورېکي

ما ليدل چې بلېدل پکې اورونه
سرو لمبو کې سوځېدل ختېن کورونه
د توپونو توغندیو غرمهبار و
تا به ویل چې رارنګېږي اسمانونه
د اسمان د ځمکې جنګ مقابله وه
خاوري دوړې بادبدلې غرونه غرونه

سپینه ورځ په تور مانبام شوله بدله
تور لوګی و د باروتو تورتمونه
ځمکه یو خوا بلې خوا ته تمبپدله
بورې بوکیو کې و پټ کلي باغونه
دا غمجنې څو شېبې لا تېرې نه وې
چې کوڅو کې جوړ د وینو شول ډنډونه
چې قلم یې له لیکلو نه بوګنېږي
د ظالم انسان مې ولیدل ظلمونه
اې شاعر "روغ لېونیه" تور ماتم و
وریتېدل په سره انګار کې ارمانونه

لوګر - ۱۳۶۸/۱۱/۲۸

ياغي سيلى

په زړه مې ډېر درنه غمونه ووري
د ګلو باغ کې مې تندرونه ووري
په رژېدو مې دي د سيلو غوټې
توري لوخړې پرې ګردونه ووري
ږلى سيلى دي پرې ياغي نازلي
په ګل غوټيو مې اورونه ووري
څېړي ممانې ننبتروني ژاړي
ښکلي دروکي مې مرګونه ووري
کلي او لاړې ولسونه زخمي
د بدبختيو پرې دردونه ووري
"روغ لېونيه" سور ګلبڼ تپي دی
د پردي لاس پرې ګوزارونه ووري

کابل خیرخانه - حوت/۱۳۶۸

ارمان

بيـا بـه د سـپرلي بنکلـي وختونـه شـي

خـړې سـپېرې دښتـې بـه ګلونـه شـي

ځمکـې بـه رنګينـې جـامې واغونـدي

ډك بـــه لـــه خوندونـــو وطنونـــه شـــي

رابه شي کاروان د سرو ګلانو پري

سمه غر به واړه جنتونه شي

خير که مې زخمي د زړګي مينه ده

تېر به د جانان دغه ظلمونه شي

ورکې به له مخې شي تياري دلته

هر خوا به روښانه مشالونه شي

مينه ژوند به پيل نوې سندري کړي

مستې به نغمې نوي سازونه شي

بيا به په نازونو غوتې وخاندي

رنګې کنډوالې به ګلکځونه شي

اې "روغ لېونيه" دا ارمان به دې

ټولو پرهرو ته ملهمونه شي

کابل د څارندوی دوه سوه بستریز روغتون

۱۳۶۸/۱۲/۲۰

انتظار

په انتظار يمه اشنا کـه راشي
په دغه لاره يوځل بيا کـه راشي
د راتلو لار کې يې سر تور ولاړ يم
لاس په دعا يم په خندا کـه راشي
د خوښۍ ورځ مې په خپلکان تېره کړه
په ترور مې پسې رنا کـه راشي
چا د راتګ د جانان ټوکه وکړه
لاريې څارمه په ربنتيا کـه راشي
د مينې يار مې مرور تللی و
د بر ارمانجن يمه پخلا کـه راشي
"روغ لېونيه" انتظار کې اوسه
صبر کوه لږ خامخا کـه راشي

کابل خير خانه - ۱۳۶۸/۱۲/۲۷

کله غم کله خوښي

کلـه کلـه راتـــه جـــور شـــي اخترونـــه
کلـــه کلـــه پنـــډي پنـــډي ورځ غمونـــه
کلـه کلـه ناسـت رنګينـو ګلکـځو کـې
کلـه شـــي راتـــه اغـــېزي ټول طرفونـــه
کله کله مې د مينې يار وي څنـګ کـې
کلـه کلـــه يـــې مشـــکل شـــي ديدنونـــه

کلـــه کلـــه پـــه ژړا یـــم کلـــه خـــاندم
کلـه ســم شـي کلـه بنـد مـې شـي غږونـــه
کلـه کلـه جـــور لالونـــه کـــړم لـــه شـــکو
کلـه لاس کـې مـې سره زر شـي وچ کاړونـه
کلـه کلـــه پـــه خوښیـــو کـــې ډوب ورك وم
کلـــه کلـــه مـــې پـــه زړه ووري دردونـــه
دا پـه څرنـــګه اضـــادو کـــې راګیـــر یـــم
چې راپښې یې کړل په ژوند کې جنجالونـه
اې شـــاعر "روغ لېونیـــه" ګیلـــه مکـــړه
د چـــا نښه وي د چـــا بـــد وي قســـمتونه

کابل خیر خانه - حوت / ۱۳۶۸

د نارنج ګل

د نارنج څانګو کې غوټې تنکي ګلان غوړېږي
د سپرلي ګلو د ژوند نوي دوران غوړېږي
سپينو غوټيو په سينو کې پټ اسرار راوړي
د ويجاړ شوي ګران وطن د زړه ارمان غوړېږي
تکو شنو پانو کې د لمر زريني وړانګې خوځي
د غرو لمنو کې د هيلو ارغوان غوړېږي
په کروندو په ګلکځو کې ساه وې وچلېدې
نن د ښکلا د خوږې مينې سره ګلان غوړېږي
دا نوی ګل به د ژوندون ځمکه رنګينه کاندي
سترې ولس ته مې رنګين افغانستان غوړېږي
بيا په زخمو په پټې کېږدي د نارنج ګلونه
"روغ لېونيه" د خوښۍ نوي جهان غوړېږي

کابل خیرخانه - ۱۳۶۹/۱/۲۵

لیونی مینه

زړه کې ساتله مې ایساره نشوه
لیونی مینه مې کاره نشوه
بنکلې لیلا چې تا وعدې ماتې کړې
د زړه بلبل مې زولنې ماتې کړې
چې مې د ستا مینې تګې ولیده
مینې زما کلکې توبې ماتې کړې

ځان يې رسوا کړو خو انکاره نشوه
لېونۍ مينه مې کراره نشوه
مينه مې پټه وه يا غې شوه ګلې
په ولسو کې تهمتي شوه ګلې
دستا د سترګو په لينديو غشو
په لړمانه باندې زخمي شوه ګلې
خير که ټپي شوه خو بې يارە نشوه
لېونۍ مينه مې کراره نشوه
"روغ لېونيه" يو ځل بيا وليکه
وارې ظلمونه د اشنا وليکه
د يار جفا د چا لمسون څه کوې
لېونۍ مينه په ربنتيا وليکه
وځوربدله خو ټکماره نشوه
لېونۍ مينه مې کراره نشوه

کابل خیرخانه
۱۳۶۹/۲/۳۰

ترخې شيبې

د عمر ورځې مې خوږې تېرېږي ګلې چې ته نه وې ترخې تېرېږي
د بېلتانه ورځې زغملې نشم ژوند بې له تا نه تېرولی نشم
چې ستا رڼا نه وي ماتم وي په ما زخمي زړګي مې صبر ولې نشم

له غمه ډکې په ما شپې تېرېږي
ګلې چې ته نه وې ترخې تېرېږي

چې نه دي وينم پلوشې د مينې تشې محفل کې شي ډېوې د مينې
د حسرتونو تورتمونو لاندې واړه شي پټې خاطرې د مينې

د زړه په کور مې زلزلې تېرېږي
ګلې چې ته نه وې ترخې تېرېږي

ستا د سيالۍ چاکې بنکلا نه وينم ګراني خفه شمه چې تا نه وينم
دلې دلې غمونه راشي په ما چې ستا د بنکلي خولې خندا نه وينم

په ځان مې ډېرې اند ېښنې تېرېږي
ګلې چې ته نه وې ترخې تېرېږي

"روغ لېونی" نه چې پناه شي ګراني توري پردې يې په مخ راشي ګراني
له اوښکو سر شي جنازې درپسې ټوله دنيا ورته بلا شي ګراني

ډېرې غمګينې پرې شېبې تېرېږي
ګلې چې ته نه وې ترخې تېرېږي

کابل خيرخانه - ۱۳۶۹/۵/۷

ماتې ګوډې

کلـي کـوڅې لاړې زخمـي دي وروڼو
پـرې ووړېدلـي توغنـدي دي وروڼو
دچـا پـه اور سـوي بـاغچې ولسـه
له چـا نـه ورکـې خپلخـانې ولسـه
د چا لوګی شوې تـاندې هيلې دژوند
چـا تـه پراتـي سـرې جنـازې ولسـه
څوك لـه غمونـو لېونـي دي وروڼو
پـرې ووړېدلـي توغنـدي دي وروڼو

کورونه ږنګ شول کنډوالې شو وطن
په سرو اوروڼو کـې لمبې شو وطن
سـترې سـتومانه وطنـوال دي زمـوږ
د جنګ لوخړو کې تيارې شو وطن
کـانې نـازل پـرې اسـماني دي وروڼو
پـرې ووړېدلـي توغنـدي دي وروڼو

د انسـان وينـې بـهېدلي دلتـه
کلـي ښارونـه پـرې تړلـی دلتـه
د ګلـو څانـګې مـاتې ګوډې ښکـاري
غـوتې ګلونـه رژېدلـي دلتـه
غرونـه درې واړه ټپـي دي وروڼو
پـرې ووړېدلـي توغنـدي دي وروڼو

"روغ لېونيـه" زوړېدلـی دی ډېر
وطـن غمـو کـې دردېدلـی دی ډېر
ظـالم يـې غـوڅه ماتـه کـړې مـلا ده
پـردو پـه وينـو لمبولـی دی ډېر
دښمـن کرلـي پـرې اغـزي دي وروڼو
پـرې ووړېدلـي توغنـدي دي وروڼو

کابل خيرخانه - ۶۹/۵/۲۰

د مینې یاد

ګلکـــڅو کـــې ننـــداري وي تـــه مـــې يـــاد وي

د بنکـــلا مقـــابلې وي تـــه مـــې يـــاد وي

د يـــوروپ پـــه بـــازارو کـــې ګرځېدمـــه

د جنـــت پـــه شـــان مېلـــې وي تـــه مـــې يـــاد وي

دې محـــل نـــه کـــډې تللـــې د غمـــو وي

د پـــی مخـــو يـــارانې وي تـــه مـــې يـــاد وي

د يـــــارانو محفلونـــــو بـــــازار تـــــود و

د مـخ لـوڅي مينـې شـپې وې تـه مـې يـاد وې

د خنـــــدا او نڅاګانـــــو تماشـــــو کـــــې

د خوښيـــــو زمزمـــــې وې تـــه مـــې يـــاد وې

بـــوراګان لـــه ســـرو غوټيـــو نـــه راتـــاو وو

د مســـتيو ولولـــې وې تـــه مـــې يـــاد وې

د موزيـــــك او د ســـــندرو شورماشـــــور و

د خـــوږې مينـــې نشـــې وې تـــه مـــې يـــاد وې

ستا د مينـې يـاد کـې "روغ لېونـــی" ډوب وم

پـه ژړا مـې سترګې سـرې وې تـه مـې يـاد وې

د باالتيك بحيري غاړه د ريګا بنار
عقرب/۱۳۶۹

کوچی

د کېږدی مخکې نازنینه کوچی
بنکلي بنکارېږي تکه سپینه کوچی

د کیږدی مخکې تور وربل ولاړه
په لوړه پوزه یې چارګل ولاړه
په خوی شډله غیرتی پښتنه
ملي جامو کې لکه ګل ولاړه

له نازه ډکه لونګینه کوچی
بنکلي بنکارېږي تکه سپینه کوچی

د عطرجن موسم رنګونو پپلغه
د شنو درو دښتو ګلونو پپغله
د پسرلي ګلونه بنکلي ماته
د دنګو دنګو لوړو غرونو پپغله

په وطني پسول رنګينه کوچې
بنکلي نکارپرې تکه سپينه کوچې

ورته خندا پرې د دنيا ګلونه
پښتو ته يې غورځي د سارا ګلونه
د پېغلوالي کوچ کيسې ترې غواړي
د سفري مينې وفا ګلونه

مزلو کې ستړې ده وريښمينه کوچې
بنکلي بنکارپرې تکه سپينه کوچې

دغه برېښنا ده که ږلې ده خلکو
که اسماني سپينه سپوږمۍ ده خلکو
چې په کتو يې سترګې نه مړېږي
دا پرښته که بناپېرۍ ده خلکو

"روغ لېونی" ته ده شيرينه کوچې
بنکلي بنکارپرې تکه سپينه کوچې

کابل بګرامي - ۱۳۶۹/۹/۲

د سترو پېښو وطن

زمونږ د ننګ او غيرتو وطنه
د سترو پېښو تاريخو وطنه

سختو وختونو ازمويلی يې ته
نه نړيوالو پېژندلی يې ته

ته دې رزمونو مېرنو تاتوبی
له سترو پېښو راوتلی يې ته

د ګوربتانو کارنامو وطنه
د سترو پېښو تاريخو وطنه

شمله دې هېڅوک نه ټيټولی نشي
سيالي له تاسره کولی نشي

که چا په سپکه درته وکتلې
هغه ژوندي سرونه وړلی نشي

د توريالیو پرګنو وطنه
د سترو پېښو تاريخو وطنه

د ستا د مينې پتنګان پراته دي
درنه چاپېره اتلان پراته دي

ستا د وقار شرف او پت په خاطر
پاکه لمن کې دې بچيان پراته دي

ډېر د ويارونو د جرګو وطنه
د سترو پېښو تاريخو وطنه

"روغ لېونی" دمينې کوريې ګرانه
دهرافغان دسترګو توريې ګرانه

تا د شرف دريز ساتلی همېش
نوله نړۍ کې ډېر مهشور يې ګرانه

مورږ ته سپارلی يې پلرو وطنه
د سترو پېښو تاريخو وطنه

د يورمالا بنار د بالتيك د بحيرې غاړه
۱۳۶۹/۹/۱۱

بېلتون

بېلتانه کې دې په اور باندې سوځېږم
لالهنده دې په مینه کې ګرځېږم
دوزخونو تنورونو کې مې ژوند شو
د هجران په سرو لمبو باندې وریتېږم
خوب خندا دې راته وړې دې محبوبې
په دیدن پسې دې شپې ورځې زوریږم
ستا د مخ په رڼا درومومه په لاره
چې بربښنا دې رانه ورکه شي ړندېږم
بېلتانه کې مې د هسې زړه نری شو
ترمې اوښکې مې په مخ راځي ژړېږم
ستا وصال ته مې بې صبره تلوسه ده
بې له تانه ګلي مرمه، لمبه کېږم
زه دې مینه کې تك زېړ روغ لېونی یم
لکه للمي ګل له تندې نه وچېږم

کابل د مرنجان غونډۍ
۱۳۷۰/۱۰/۱۶

پوښتنه

کروندې مې د سرو وينو سرې چينې شوې
درمندو کې مې غلې دانې ورستې شوې
تـرې بـهېرې نـن ويـالې لختـې د وينـو
د غوټيـو ګلالـۍ غـاړې چې پـرې شـوې
چـا پـه کـانو وويشـتلو چـا تـالاکـړو
په ګلبن مې جوړې داسې مسخرې شوې
ګلکځونـو غـرو درو کـې اور بلـېرې
انسـاني هيلې مـې لولپـه لمبـې شـوې
ټولـيزې او ميلـي ګټې مـې وارې
د پرديـو پـه لمسـون خـاورې ايـرې شـوې
ظالمـانو داسـې لوبـه تـوده کـړې
د انسان په وينـو رنګ کلي کوڅې شوې
دا پوښتنـه کـړم لـه تـا "روغ لېونيـه"
د وطـن پېغلـې مـې چـېرې ملمنـې شـوې

د يورمالابنار د بالتيك د بحيرې غاړه
قوس/۶۷

کور

ړنګ شو زمور بنکلي د عمرونو کور
بنکپل شو په تیارو کې د پلرونو کور
څو ځلې وران شوی سوځېدلی دی
دغه د ممانو ننبتروني کور
ګران یې که ظالم ته ړنګول ندي
سخت یې جوړول دي بیا د غرونو کور
پټ دي د محشر په تورتمونو کې
بنکلي د سرو ګلو ګودرونو کور
اوس راتهوکپدلي دي اغزي پکې
څه شو د ګلانو اخترونو کور
نن د چا له لاسه سور په وینو دی
دا دي افغانانو سنګرونو کور
اې "روغ لېونیه" بیا یې جوړ کړه ته
خپل د مینې ژوند د سفرونو کور

کابل خیر خانه
۱۳۷۰/۱/۱۲

وچ ګلونه

زما د ژوند نوي دوران ګلونه وریژېدل مې د ارمان ګلونه
په شنو باغونو مې خپګان راغلو چې پسرلي کې پرې خزان راغلو
د تورو وربڅو په تیارو کې دلته د بدبختیو پرې توفان راغلو
واړه مې وچ شول ارغوان ګلونه ورژېدل مې د ارمان ګلونه
ظالم په وینو ځندې سور کړو راته د ګلو باغ یې سوی سکور کړو راته
لارو کوڅو کې یې اغزي وکړل توتې توتې یې کلی کور کړو راته
وسول په اور مې د ګربوان ګلونه ورژېدل مې د ارمان ګلونه
تالا والا بنکلي باغچې شوې زما په اور کې لولپه غونچې شوې زما
په پردي لاس په شیطاني د بل چا ورانې ویجاړې کروندې شوې زما
په غم یې ژاړي د جهان ګلونه ورژېدل مې د ارمان ګلونه
"روغ لېونیه" ګیلمنې لاړه د وطن پېغلې مې غمجنې لاړې
وایه له چا نه دا پوښتنه وکړم پردي وطن ته بې پوښتنې لاړې
اوس رانه ورک دی د جانان ګلونه ورژېدل مې د ارمان ګلونه

کابل خیرخانه - حمل/ ۱۳۷۰

وطن ته

ستا د ښکلا په ګلکښو مې قسم

ستا په پیچومو کړلپچو مې قسم

چې په تاریخ کې چاته ټیټې ندي

ستا په هغو نېغو شملو مې قسم

له شنه هار یې چې وجود بوګنېږي

ستا په یاغي څپاند سیندو مې قسم

چې پرخو ترړو کې يې ځای نيولی

ستا په ممانو ننبتړو مې قسم

چې له هيبت نه پکې ريږدي انسان

په بنکلي شنو ګنډو ځنګلو مې قسم

چې له غرور يې سر اسمان ته رسي

پدغه غرونو سړدرو مې قسم

اې د ويارونو غيرتو وطنه

ستا په برمونو تاريخو مې قسم

"روغ لېونی" به دې خدمت کوي تل

ستا په مېرانه او پښتو مې قسم

کابل خير خانه - ۱۳۷۰/۲/۱۱

يتيم ته

ستا په ژړا دي سترګې سرې يتيمه ترخې تېرېږي په تا شپې يتيمه
ستا د امید تنکي ګلونه وسول د مستقبل دې ارمانونه وسول
تنهايې پاتې بې اسرې يتميه ترخې تېرېږي په تا شپې يتيمه
يواځې بنکېل په تورتمونو کې يې د ژوندانه په کړاوونو کې يې
دا به ترکومه تېروې يتيمه ترخې تېرېږي په تا شپې يتيمه
که لوڅې پښې خيرن لاسونه ګرځې که ببر سر له ستمونه ګرځې
کله دې اوري څوك سوري يتيمه ترخې تېرېږي په تا شپې يتيمه
وږی په نس په تن لغړ يې ګرانه په سپېرو خاوروکې خړپړ يې ګرانه
ظالم دې هيلې کړې لمبې يتيمه ترخې تېرېږي په تا شپې يتيمه
"روغ لېونی" دې فريادونه ليکي په اور کباب دې ارمانونه ليکي
واړه دې وينې اند پښنې يتيمه ترخې تېرېږي په تا شپې يتيمې

کابل پوهنتون بن – ۱۳۷۰/۳/۵

بنکلول

مـــا چـــې پـــه مينـــه بنکلولـــې ګلـــې
ســـتا تنکـــۍ شـــوندې رپېدلـــې ګلـــې
تـــه بنکلـــې پېغلـــه د نشـــو ډکـــه وې
ډېر د نـــازونو هوســـو ډکـــه وې

مـــا دې چـــې لاس پـــه لاس کـــې ونيولـــو
ډېره د مينـــې لـــه خونـــدو ډکـــه وې

چې رنګ په رنګ به دې خندلې ګلې

ستا تنکۍ شوندې ږپدلې ګلې

ما چې له باغ درته راوړل ګلونه

تا به په مینه جوړول ګلونه

کله به هیر شي له مین زړګینه

چې ستا په سر کې مې تومبل ګلونه

لکه ګلخانګه بنکاریدلې ګلې

ستا تنکۍ شوندې ږپدلې ګلې

ګرانې چې پټ دې په ګلونو کړمه

ګډ دې په رنګ رنګ جنتونو کړمه

چې سرمې کښښود ستا په سپینو لپچو

مور دې په بنکلو دیدنونو کړمه

"روغ لیونې" چې تخنولې ګلې

ستا تنکۍ شوندې ږپدلې ګې

د بارتیك د بحیرې غاړه د ریګا بنار

۱۳۷۰/۳/۲۰

تیږې هیله

په پرهـــرو مـــې ملهمونـــه کـــېږده
د زړه پـه سـر مـې سـره لاسـونه کـېږده
راځه د مینـــــې دیدنونـــــه راوړه
ســتا د بنکـــلا د بـــاغ ګلونـــه راوړه
پـه نـاز مـــې مـــخ تـــه قدمونـــه کـــېږده
د زړه پـه سـر مـې سـره لاسـونه کـېږده

ماته په مینه له مستۍ وخانده

لکه د سرو ګلو غوټۍ وخانده

په خوله مې ستا شوند و سرونه کېږده

د زړه په سرمې سره لاسونه کېږده

خوا ته مې راشه تکې سپینې جلۍ

غم رانه لیرې کړه عطرینې جلۍ

تږي ارمان ته مې جامونه کېږده

د زړه په سر مې سره لاسونه کېږده

"روغ لېونی" د رنځ دوا شه ګلې

د مینې ژوند ته یې رنا شه ګلې

په مین زړه یې سره ګلونه کېږده

د زړه په سز مې سره لاسونه کېږده

کابل خیرخانه
سرطان ۱۳۷۰

لمبل

چې سين په غاړه دې لمبلې ګلې
څه تکه سپينه پرقېدلې ګلې
نيمايي پته په اوبو کې وې ته
نيمه څرګنده منظرو کې وې ته
بنکلې رنګينه بنکارېدلې ګلې
څه تکه سپينه پرقېدلې ګلې

د سين اوبو كه سپين موجونه وهل
ستا د سيني باغ طوفانونه وهل
له مينې ګرمه تاوبدلې ګلې
څه تکه سپينه پرقبدلې ګلې
کله به تلې کله لوټدلې په ناز
کله اوبه به دې شيندلې په ناز
کله په شګو لغړېدلې ګلې
څه تکه سپينه پرقبدلې ګلې
"روغ لېونی" باندې محشر ولګېد
ستا په بنکلا يې چې نظر ولګېد
سترګو کتې قلم ليکلې ګلې
څه تکه سپينه پرقبدلې ګلې

د يورمالابنار دبالتيك د بحيري غاړه
سرطان/ ۱۳۷۰

بربادي

په وطن کې بې خوندي ده لګېدلې

د ظلمونو بدبختي ده لګېدلې

بې ارزښته د انسان وينې توئيرې

د مرګونو ارزاني ده لګېدلې

محتکر ته خو څوك هېڅ ويلی نشي

داسې رنګه بې غوري ده لګېدلې

ميـوي غـوښي چاتـه نـه رسـي يـارانو

د نرخونـو بـې شـرمي ده لګېدلـي

الـوګان چـې مـن پـه دوه زره خـرڅېږي

بـل څه نـدي بربـادي ده لګېدلـې

قيمتـي کـې بـه دې څه سـر خوږوومـه

غـم خـو دا دی چې قحطـي ده لګېدلـې

قـانوني روا کارونـه چـې پـرېچـاو دي

د رشـوت حکمرانـي ده لګېدلـې

له غوسې نه که هرڅوک "روغ لېونـی" شي

وس دې نشـته ګډوډي ده لګېدلـې

کابل خیرخانه
اسد/ ۱۳۷۰

ليلا

ستا په مينه کې ګالمه تکليفونه
پنډه پنډه ګرځوم په شا غمونه
کلي کور کې مې څوک نه پرېږدي چې اوسم
تېرومه په پردي وطن کالونه
هغه زړه مې چې و ستا په مينه ګرم
ظالمانو پرې منډلي دي سيخونه
په هجران کې مې دنيا ې د خيالونو
راسره دي ستا د مينې يادګارونه
د ظالم تخت به راپرېوځي له اسمانه
ما ليدلي پدې باب کې دي خوبونه
خير که اوس يې لالهاند "روغ لېونيه
خو اخير به دي نصيب شې ديدنونه

د تاشکند بنار
ميزان/ ۱۳۷۰

د ولس ګوابنې

زمـوږ ولـس پـرې غولېدلـي نشـي
ظـالم لـه چـا نـه پټېدلـی نشـي
کومـو اورګډو چـې راوړی دلتـه
جنګ يې پر مـوږ بـاندې تپلی دلتـه
دا لـه تـاريخ نـه ورکېدلـی نشـي
ظـالم لـه چـا نـه پټېدلـی نشـي
هـره جامـه کـې چې څوک ځان وښيـي
تشـو خـبرو کـې جـهان وښيـي
دا دي چـا زړو کـې ځای نيولـی نشـي
ظـالم لـه چـا نـه پټېدلـی نشـي
روغ لېونـی پـرې پوهېدلـی دی نـن
دوست او دښمـن يې پېژندلی دی نـن
زمـوږ لـه خلکـو خلاصېدلـی نشـي
ظـالم لـه چـا نـه پټېدلـی نشـي

دريګا بنار - عقرب / ۱۳۷۰

ورک اشنا

مالیـــاره بـــاغ کـــې د ګلان لـــتوم

پکـــې بنکـــلا د خپـــل جانـــان لـــتوم

باغوانـــه بـــاغ کـــې دي ســـیلونه کـــوم

د ســـــرو غوټیـــو د یـــدنونـــه کـــــوم

د خوږیـــن زړګي پکـــې ارمـــان لـــتوم

پکـــې بنکـــلا د خپـــل جانـــان لـــتوم

باغوانـــه ســـتا ګلـــو دنيـــا ګورمـــه

د ســـرو غنچـــو بنګلـــي نـــڅا ګورمـــه

د مينـــي ټول پکـــي يـــاران لـــټوم

پکـــي بنګـــلا د خپـــل جانـــان لـــټوم

يـــو څو شـــيبې مـــې تـــېروم ګلـــو کـــې

د زړګي هيلـــې ټولـــوم ګلـــو کـــې

ورك مـــې اشـــنا د ګل پـــه شـــان لـــټوم

پکـــي بنګـــلا د خپـــل جانـــان لـــټوم

مـــالي خـــبره درتـــه ســـپينه کـــوم

د يـــار لپـــاره پـــه ګل مينـــه کـــوم

"روغ لېونـــی" زړه تـــه درمـــان لـــټوم

پکـــي بنګـــلا د خپـــل جانـــان لـــټوم

کابل خير خانه
قوس/ ۱۳۷۰

رشوت خور ته

ستر خپتور مې پېژندلي يې ته
په رشوتونو پرسېدلی يې ته
حرام په تا باندې خوږه لګېږي
ربنتيا ويل په تا ترخه لګېږی
مزو چرچو بل خوا بيولي يې ته
په رشوتونو پرسېدلی يې ته

تا چې رشوت په زور خوړلی دی نن
بې پته ژوند دې پرې جوړ کړی دی نن
خلك دې نه منې رټلې یې ته
په رشوتونو پرسېدلې یې ته
پرون دې نه و نن قصرونه لرې
د سرمایې په نوم بانکونه لرې
لویه ګناه کې پربوتلی یې ته
په رشوتونو پرسېدلې یې ته
"روغ لیونې" نه پټېدلی نشې
له کړې غلا منکریدلی نشې
ځکه یې شعر کې شرمولی یې ته
په رشوتونو پرسېدلې یې ته

PROPERTY OF ACKU 8656



وزیر محمد روغ لپونی

دانش خپرندویه ټولنه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳